**PRESS STATEMENT**

21 August 2024
Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

**د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ځانګړې استازې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د مشرې بیانیه**

**کابل،۲۰۲۴ د اګست ۲۱مه** - د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) مشرې نن د ترهګرۍ د قربانیانو د یاد او درناوي د نړیوالې ورځې (اګست ۲۱) او همدارنګه د مذهب یا عقیدې پر بنسټ د تاوتریخوالی د قربانیانو د یاد نړیوالې ورځې (اګست۲۲) په مناسبت یوه اعلامیه خپره کړه.

اغلې روزا اوتنبایوا وویل: " موږ دا نیټې د ټولو افغانانو لپاره چې د څو لسیزو جګړو په اوږدو کې یې خپل ژوند یا عزیزان له لاسه ورکړي، په ځانګړي درناوي سره لمانځو، په دې هیله چې دا کړاو د دوی د بشري حقونو په بشپړ تامین سره پای ته ورسیږي".

نوموړې زیاته کړه: " د دې نړیوالو ورځو د لمانځلو له لارې، د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله د خبرو اترو او د سولې د هڅو د ګړندیتوب لپاره روښانه غوښتنه کوي، او د سوله ایزو او ازادو ټولنو د یوې مهمې برخې په توګه د ترهګرۍ د قربانیانو د شاملولو ارزښت په ګوته کوي".

هغې همدارنګه وویل : " عمومي اسامبله دا هم په ګوته کوي چې دا د ملګرو ملتونو د غړو هیوادونو له لومړنیو مکلفیتونو څخه دي چې د مذهبي لږکیو د بشري حقونو په ګډون، د ټولو وګړو د بشري حقونو ساتنه وکړي او ورته وده ورکړي. دا هغه پیغام دی چې موږ یې د حاکمو چارواکو په ګډون، په ټول افغانستان کې رسولو ته دوام ورکوو."

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې په خپل (2017) A/RES/72/165 شمیرې پریکړه لیک کې د اګست ۲۱مه د ترهګرۍ د قربانیانو د یاد او درناوي د نړیوالې ورځې په توګه ونوموله ترڅو د ترهګرۍ د قربانیانو د ملاتړ د اهمیت په اړه پوهاوی لوړ کړي. د دې ډول تاوتریخوالي له امله د وژل شویو کسانو د یاد لپاره د یوې دقیقې چوپتیا مراعات کړي، له ترهګریزو کړنو څخه د ژوندي پاتې شویو کسانو ملاتړ وکړي او همدارنګه د دوی د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو خوندیتوب وساتي او ورته وده ورکړي.

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د (2019) A/RES/73/296 پریکړه لیک له مخې، د اګست ۲۲مه د مذهب یا عقیدې پر بنسټ د تاوتریخوالی د قربانیانو د یاد نړیوالې ورځې په توګه ونوموله. له دې لارې د مذهبي ټولنو او مذهبي لږکیو اړوند کسانو په ګډون د مذهب یا عقیدې پر بنسټ د تاوتریخوالی د قربانیانو د ملاتړ اهمیت په ګوته کیږي.

یوناما ته د امنیت شورا د 2626 (2022) پریکړه لیک له مخې ماموریت ورکړل شوی چې د 2678 (2023) پریکړه لیک او 2727 (2024) پریکړه لیک له مخې یې ماموریت تمدید شوی دی.

دغه ماموریت یوناما ته دنده سپاري چې د بشردوستانه اصولو، بشري حقونو، د ښځو او نجونو د برابرۍ، ټول شموله حکومتولۍ، انعطاف او اقتصادي ثبات سره سم د بشردوستانه مرستو ملاتو وکړي او ورته وده ورکړي او همدارنګه د افغانستان د سولې او ثبات په موخه له ټولو ملي، سیمه ییزو او نړیوالو ښکیلو اړخونو سره رغنده ښکیلتیا ولري.

* * *